# حضرت سید میر انور شاه بابا او حبِ اهلِ بیت

# Sayed Mir Anwar shah and Hub-e- Ahl AL-Biat

*[1]: Dr Nasrullah khan

**2: Dr Zar Muhammad Sangar

***ABSTRACT:***

***Whoever is loved by Allah, his family will also be loved. Among all mankind, Allah chose the Arab's, then Muzar, then Quresh, then Hashim, then Prophet Muhammad (P.B.U.H), and his family. We say '' DAROOD'' on the prophet Muhammad(P.B.U.H), and his family in five time prayers daily, and this is a virtue of the level of perfection. The Prophet (P.B.U.H ) said that my generation will go ahead of Hazrat Fatima. Hassan and Hussain will be the leaders of the youth of Paradise. Fatima is a part of my body, Ali is mine and I am Ali's, those who hurt them, they hurt me, and those who loved them, they loved me.***

***Loving the AHL- AL-BAIT is part of our faith. All these things mentioned above come to us in Mir Anwar Shah's poetry. Mir Anwar Shah was a learned and virtuous poet. You will read all this in this research paper.***

Key words: Quran, Hadith, Ahl-al-Bayt, Mir Anwar Shah, Classical poetry.

جناب عارف کامل سید میر انور شاه د اورکزو پهٔ کلایه کلي کښې پیدا شوے دے چې د پیدائش صحیح نیټه ئې نهٔ ده معلومه البته د یوې اندازې تر مخه په کال ۱۱۱۳هجري بمطابق ۱۷۰۱عیسوي کښې پیدا شوے دے. د سید میر انورشاه شاعري ډېرې ذائقې، خوندونه او رنګونه لري چې په کښې حمد، نعت، مرثیه، منقبت، وعظ و نصیحت، عشق، سلوک، معرفت، تذکیه نفس ، تصوف، پیرکامل، فقر، درویشي، عرفان ذات، ایمانیات، اخلاقیات او اسلامي تعلیمات شامل دي، ولې په دغه کښې تر ټولو غالب او جوت رنګ د اهل بېتو سره بې حده او بې کچه مینه محبت او عقیدت دے چې د صحیفهٔ انوریه د هرمخ او کرښې نه لکه د شهدو راڅاڅي .

" انورشاه بابا د خېبر پښتونخوا په جنت نظیر سیمه وادئ تیراه اورکزی ایجنسی کلایه نومې کلي کښې پهٔ کال ۱۱۱۳ هجری بمطابق 1701 ء کښې پیدا شوے ؤ. "[1]

*1:Dr Nasrullah khan assistant professor Pashto department Islamia college Peshawar

**[2]: Lecturer Department of Pashto ICUP

د اهل بیت مقام، درجه او اهمیت د قرآن، حدیث او بیا د سید میر انورشاه د کلام پهٔ آئینه کښې څېړلے شي، ولې اول د صحابي تعریف او فضیلت د قرآن او حدیث په رڼا کښې پېش کولے شي چې خبره نوره هم واضحه او اسانه شي .

د حافظ ابن حجر رحمته الله علیه مطابق صحابي هغه څوک دے چې :

ترجمه:

"اصحابي هغه چا ته وئیلے شي چا چې د ایمان په حالت کښې نبي کریم صلی الله علیه وآله وسلم لیدلے وي او د ایمان او اسلام په حالت کښې وفات شوے وي."[2]

دغه شان پهٔ اسلامي دنیا کښې هم ډېرې ډلې، فرقې او مذهبونه شته، چې ځینې په کښې د صحابهٔ کرامو او ځینې د اهل بیت اظهار مخالفت کوي. د صحابهٔ کرامو مخالفین او هغوئ سره بغض او حسد کوونکو ته رافضي وئیلے شي او کوم خلق چې د اهل بیت سره مخالفت، بغض، عناد او دشمني ساتي، هغوي ته خارجي وئیلے شي.

د صحابهٔ کرامو فضیلت پهٔ قرآن پاک کښې پهٔ ډېرو ځایونو کښې ذکر شوے دے.

ترجمه : "د مهاجرین او انصار هغه وړومبي خلق چې پهٔ هجرت کولو اؤ ایمان راؤړلو کښې تر ټولو وړاندې وو او نور هغه خلق کومو چې پهٔ اخلاص سره د وړومبنو پیروي وکړه، الله د هغوي نه راضي دے اؤ هغوي د الله نه راضي دي."[3]

د صحیح بخاري د حدیث په رو سره کوم خلق غوره دي نبي علیه السلام فرمائي:

(ترجمه) " زما د زماني خلق تر ټولو غوره دي، بیا هغه خلق چې دوي پسې دي اؤ بیا هغه چې دوي نه پس راتلونکي دي."[4]

دغه شان د قرآن پاک په رو سره هم د اهل بیت نه مراد د نبي کریم ازواج مطهرات او اهل و عیال دے.

ترجمه : "اے اهل بیت الله پاک غواړي چې لهٔ تاسو نه ناپاکي لرې کړي او تاسو بالکل صاف کړي."[5]

او ځینې خلق د ( د حدیث الکساء) یعني د څادر والا حدیث په حواله دا دعوٰی کوي چې د اهل بیت نه مراد صرف هغه حضرات دي چې کوم په څادر کښې وو یعني حضرت علي، حضرت فاطمه رضي الله عنها، حضرت حسن او حضرت حسین رضي الله عنهما. هم په دې حواله یو بل حدیث د حضرت ام سلمٰی نه هم نقل شوے دے.

د امام طبراني پهٔ حواله محمد نجیب الرحمان پهٔ " فضائل اهل بیت " کښې لیکي:

(ترجمه)

" حضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنہ سے مروی ہے حضور اکرم صلی الله علیہ وآلہ وسلم نے فرمایا : میرے اہل بیت کی مثال حضرت نوح علیہ السلام کی کشتی کی ہے، جو اس میں سوار ہوگیا وہ نجات پا گیا اور جو اس سے پیچھے رہ گیا وہ غرق ہوگیا."[6]

دغه شان حضرت سید میر انور شاه د نبي کریم، اهل بیت، حضرت علي، حسنېن، دولس امامان، د امام مهدي ظهور، څوارلس معصوم، اسم اعظم، د امام جعفر صادق، د ناجیه مذهب انتخاب، د امام رضا د زیارت فضائل او د جشن نوروز ذکر په کثرت سره کړے دے.

د حضرت علي په شان او مدح کښې ئې ډېر څه لیکلي دي چې په کښې اکثر د علي ردیف سره لیکلي شوي دي. د ظاهري او باطني علومو کان او مظهر یې، شېرخدا یې، ابوتراب یې، د پیغمبر داماد یې، د حسن او حسېن پدر یې او تر ټولو زیات په علم بهره ور یې. لکه چې حدیث دے چې

" زۀ د علم ښار یم او علي ئې دروازه ده."[7]

میر انورشاه هم فرمائي:

" زه دي پېژنم داور یې یا علي
په ظاهر باطن مظهر یې یا علي
په سیالۍ به د ستا کوم آدم رسېږي
چې داماد د پیغمبر یې یا علي
ستا نامه ولي وصي د پیغمبر دے
د نبي د علم در یې یا علي
ابوتراب نامه د ستا لقب دے
په معنٰی شمس و قمر یې یا علي"[8]

د حضرت علي اهمیت او فضیلت په ډېرو احادیثو کښې ذکر شوے دے. په ډېرو غذاګانو او جنګونو کښې ئې برخه اخستې ده د خیبر د جنګ په موقع نبي صلی الله وسلم ارشاد وفرمایلو چې

"سبا به زۀ یو داسې سړي ته جهنډه ورکووم چې د هغه په لاسو به الله تعالٰی فتح راکوي هغه د الله او د هغه د رسول سره محبت کوي."[9]

او بله ورځ نبي صلی الله وسلم بیرغ حضرت علي ته ورکړو.

دغه شان حضرت علي ته نبي کریم فرمائیلي وو:

(ترجمه) " تۀ زما نه او زۀ ستا نه یم" [10]

بل حدیث مبارک دے چې:

(ترجمه) " کوم بنده چې علي ته تکلیف ورسولو ګویا چې ما ته ئې تکلیف ورسولو"[11]

په دي اړه سيد انورشاه بابا د نبي كريم د خُلي حديث راخلي او د هغو خلقو نه ځان مبرآ ګڼي كوم خلق چې د حضرت علي سره مينه محبت او دوستي نۀ كوي

"د رسول د خُلي حديث دے
علی انت و مولٰی دے
چې دوستدار د علي نۀ وي
په هغو مې تبرأ دے
د علي دوستي ئې نۀ وي
د هغۀ طاعت خطا دے "[12]

د اهل بيت فضائل وړاندې هم ذكر شول ځكه چې د دوي محبت د دين او ايمان حصه ده د نبي صلی الله عليه واله وسلم د حديث مبارک مفهوم دے چې زۀ تاسو ته دوه څيزونه پرېږدم كۀ هغه تاسو مضبوط ونيسئ نو ګمراه به نۀ شئ يو قرآن، دوئم اهل بيت.

مطلب دا چې قران يوه حصه شوه او دوئم اهل بيت، لكه چې اهل بيت ته ګورئ او د هغوي غوندې عمل كوئ دغه زمونږ لۀ پاره يو معيار او كسوټي شوه او د ايمان حصه په دې شكل كښي ده كۀ چرې دوي سره مونږ مينه محبت نۀ لرو نو زمونږ ايمان كمزورے دے . د اهل بيت په بابله انورشاه بابا وائي:

" په طريق د اهل بيت شه
چې حيدر د دين پېشوا دے
و هېڅوک به پاتې نۀ شي
چې حسن حسين جدا دے
د سيد لار ده محكمه
په قران كښي انما دے "[13]

بل ځائې وايي:

"پيروي مطابعت د اهل بيت كړم
سالک تلونے د سيد فخر په بهير يم "[14]

دلته د سيد فخر نه مراد سيد ابوالحسن فخر عالم بابا مراد دے

بل ځائے كښي انور شاه د حب اهل بيت په حقله وائي چې د الله، د نبي، د علي او د اهل بيت د مينې نه علاوه نورې مينې حرامې دي لكه چې وايي:

"پهٔ زړه حب د مولا بویه
لري کړه عبث خیال
چې نبي و علي ژاړي
ماه و مهر شو غربال
بې دي حب بل حب حرام دے
کهٔ خروار وي کهٔ مثقال
میر انوره بس کړه بس
د قلم تېر شهٔ مجال"[15]

د اهل بېت د مؤدت او دوستۍ په حقله د" صحیفه انوریه " مترجم ډاکټر سید مقیل حسین حسېني ډېره زبردسته او پهٔ زړه پورې تجزیه پیش کړې ده او د انورشاه بابا د مؤدت اهل بیت خلاصه ئې وړاندې کړې ده

"سید موصوف یہ بتا رہے ہیں کہ ریاضت، محنت یا زہد و تقوٰی کے نتیجہ میں یہ انعام مجھے نہیں ملا بلکہ میں اس کو خوش قسمتی سمجھتا ہوں اور خدا کی طرف سے عطا اور مہربانی سمجھتا ہوں پس عطا کرنے والے نے قابل اور لائق سمجھ کر عطا کی ہے اور عطا کرنے والا بھی ہر ایک کو اس کے اخلاص اور قابلیت کے مطابق دیتا ہے۔"[16]

دې سره سره انورشاه بابا د دولس امامانو ذکر هم په کثرت سره کړے دے ټولو ته ئې د مینې او عقیدت پیزوئینې وړاندې کړې دي او د علي نه د امام مهدي تر ظهور پورې ئې دغه ذکر پوره په آب و تاب سره کړے دے. خپل ځان د امام علي نوکر او چاکر ګڼي چې دا ټول د بتول په فرزندانو ګڼې او د رسول د سترګو تور دي:

"نُور چشم د رسول دي
فرزندان چې د بتول دي
لهٔ علي تر مهدي پورې
امامان د دین وشماره
آئمه اثنا عشر دي
هادیان د دین رهبر دي "[17]

د حضرت علي په منقبت کښې ئې د ټولو امامانو ذکر کړے دے لکه حضرت علي، امام حسن، امام حسېن، امام زین العابدین، امام محمد باقر، امام جعفر صادق، امام موسٰی کاظم، سلطان علي رضا، امام تقي، امام نقي،حسن عسکري او امام مهدي

"په شمار کښي اول ته دوېم حسن دے
هم حسېن، عابد سرور يې يا علي
محمد باقر امام سره پينځهٔ شي
پاک مذهب کښي شمار جعفر يې يا علي
هم موسٰی کاظم، سلطان علي رضا يې
هم تقي، نقي، عسکر يې يا علي
د آخرې زماني صاحب زمان يې
د هغه امام لښکر يې يا علي
د حسېن په نامه فهم راباندې وکړه
ته پېشوا د مير انور يې يا علي"[18]

د ټولو امامانو ذکر کوي خو خپل پېشوا امام جعفر صادق ګڼي د هغه مذهب مني هم او فخر پرې هم کوي. امام جعفر صادق د استاذانو استاذ تېر شوے دے په ١٧ ربيع الاول ٧٣هجري کښي پيدا شوے دے او په ١٥ رجب ١٤٨ هجري کښي وفات شوے دے، د مور بي بي نوم ئې ام فروه ؤ، صادق ئې لقب ؤ ، د امام زېن العابدين زوے، د امام حسېن نمسے او د حضرت علي کړوسے ؤ. امام کاظم ئې زوے او امام علي رضا ئې کړوسے دے چې د ايران په مشهد ( زوړ طوس) کښي ئې روضه ده کوم چې د شرافت، معرفت، عزت، د دين محبت او د مخلوق خدا سره په مهرباني او انس و محبت پېژندے شي. سيد انورشاه بابا فرمائي:

"لهٔ علي تر مهدي پوري
هر امام لري مذهب
په مذهب کښي جعفري يم
سيد اصل پاک نسب"[19]

وړاندې وائي چې په ټولو مذاهبو کښي بهتر مذهب د امام جعفر صادق صاحب دے:

"ګل چمن و مذاهب ته مي نظر کړو
ګل بهتر نه ؤ بل ګل لهٔ جعفري"[20]

د امام جعفر صادق ډېر اقوال محترم ډاکټر مقبل حسېن په دې کتاب کښي ځائے په ځائے نقل کړي دي د ناجيه مذهب په حقله وړاندې وائي:

"ناجيه مذهب لۀ واړو انتخاب کړه
د جحيم اور به شي مړ لۀ دغه برده "[21]

"ناجيه وائي جنت د مو مکان دے
نواصب وائي دوزخ کښي به زۀ ناړم "[22]

سيد مير انورشاه چي په کوم شان او انداز کښي د حسن او حسين عليهماالسلام کومه مدحه کړي ده نو د لوستو سره تعلق لري ځکه چي د سرور کائنات دوه نمسي دي، چي د حضرت علي د سترګو يخوالے او د سترګو نُور دي، د حضرت فاطمه د باغ ګلونه چي ورسره زړۀ او دماغ معطر دي لکه چي نمر اوسپوږمی روښانه دي. د سعادت، مرتبې او عزت لوړ غرونه دي. د عين اليقين او علم اليقين سپوږمی او د وحدت سمندرونه دي. د امامت او عصمت ستوري دي، د جنت د باغ ګلونه او خوشبو دي. تر ټولو زيات دا چي د جنت د ځوانانو سرداران دي.

د نبي کريم صلی الله عليه واله وسلم مبارک حديث دے چي

(ترجمه) "بېشک چي په دنيا کښي حسن او حسين زما دوه ګلونه دي"[23]

هم دا حديث په بخاري شريف کښي په ۳۷۵۳ او ٥۹۹٤ نمبر راغلے دے

د حضرت ابو حريره په روايت يو بل حديث کښي راغلي دي:

(ترجمه) "چي چا د دوي دواړو سره محبت وکړو نو هغه ما سره محبت وکړو او چي چا دوي سره بغض وکړو نو هغه ما سره بغض وکړو"[24]

انورشاه فرمائي:

"د پاک رسول ثقلين
دوه نمسي دي حسنين
د علي دي نورالعين
يو حسن دے بل حسين
شګوفي بتول د باغ دي
معطر لۀ يو دماغ دي
عرش کرسي کامل ابلاغ دي
يو حسن دے بل حسين
لۀ جناب د حق ظهور دي
امامان نور علی نور دي
انورشاه په زړۀ حضور دي

یو حسن دے بل حسېن "[25]

دې سره سره میر انورشاه د حسنېنو ډېرې مرثیې هم لیکلي دي چې د زړۀ او قلم پوره زور ئې په کښې ښودلے دے. د کربلا واقعات ئې ډېر په درد ناک انداز کښې ستائیلي دي د امام حسېن مجالس او ماتم داري ئې په خپله علاقه کښې شروع کړې ده چې تقریباً د دوه نیم سوو کالو نه جاري ده. ډاکټر مقبل حسېن په دې حقله لیکي:

"حضرت امام حسین کی مجالس و ماتم داری کو صحیح طریقے تیراہ اورکزئ ایجنسی، بنگش اور کرم ایجنسی پاراچنار میں رائج کیا سید موصوف کی مقدس صحبت اور توجہ باع کےباعث بہت سے باکمال مرثیہ گو، قصیدہ گو اور غزل گو شاعر پیدا ہوئے جنہوں نے ہر فن سخن میں امام حسین کے غم کو بیان کیا ہے۔"[26]

د صحیفه انوریه په آخره کښې سید انورشاه بابا د " شهادت امام " تر عنوان لاندې ۱۳۳ شعرونه مرثیه لیکلي ده. د شهادت امام حسېن واقعه ئې ۲۳۳ شعرونه لري چې د لیک کال ئې په کښې هم ښودلے دے چې په ۱۱۹۸ هجري کال کښې تکمیل ته رسېدلي ده. لکه

"زر سل نوي اتم کال د هجرت وه
دا کلام محنت انجام د مصیبت وه "[27]

د " شهادت حضرت امام علي ابن موسیٰ رضا" مرثیه ئې هم ډېره دردناکه او اوږده لیکلې ده چې ۲۷۳ شعرونه لري د دې نه د انورشاه بابا په شاعرۍ د دست قدرت پته لګي د دې د لیک کال ئې هم په ابجدو کښې بیان کړے دے لکه:

"سن د هجر ر، و، غېن
څلور پاسه فی ما بېن
واقعه شوه په اتمام
په ترتیب په سر انجام "[28]

د دې مرثیې د لیک کال ۱۲۰٤ هجري راځي.

دې نه علاوه ئې ځینې نورې مرثیې هم لیکلي دي لکه د حضرت میر سید ولي په وفات، قنبرعلي خان، دائم خان او ظفرخان وغېره په تاریخي توګه د قدر وړ نامي دي.

د انورشاه بابا د شاعرۍ نه دا اندازه لګي چې تاریخي، عصري، دیني او فقهي علوم ئې حاصل کړي وو. په یو ځائې کښې ئې دغه ذکر هم کړے دے:

"مخ د یار د خال و خط کتابت لولم
چې خبر لۀ قدوري کنز لۀ صرف میر یم
هدایه په شرائع کښې مې و نۀ لید

دا نسخه په زړۀ ليده شي ورته خير يم
مطالعه سېل د هر کتاب مي کړے
ډېر مئين په تواريخ رجعت تفسير يم "[29]

د ډ اکټر سيد مقيل حسېن حسېني د اندازې مطابق د بابا سل کاله ژوند ؤ.

" ایک محتاط اندازے کے مطابق سید انورشاہ نے تقریباً سو سال کی عمر پائی تھی سید بزگوار کی تاریخ وفات ۱۵ رجب المرجب ۱۲۱٤ ھجری بمطابق ۱۳ دسمبر ۱۷۹۹ عیسوی ہے "[30]

د سيد ميرانورشاه بابا کلام د نورو ډېرو علمونو، تاريخونو او لعلونو خزانه ده خو يو پوهه، زيرک او ماهر څيړنکار ته اړتيا لري.

حوالي

---

1: ډاکټر نصرالله خان ، د انور شاه بابا د ژوند او کلام مختصره جايزه، پښتو، دری مياشتنی مجله، پښتو، پښتو اکېډيمي پېښور يونيورسټي، جلد ٤٩، نمبر ٦٦٠، جولائي دسمبر ٢٠٢٠ ء ، مخ: ٢٠٩
2: محمد نجيب الرحمان، فضائل اہل بیت اور اصحاب کرام، آر۔ٹی پرنٹرز لاہور، جنوری ۲۰۱۳ ء، ص: ٥٨
3 : سورة التوبه ، آيت: ١٠٠
4 : محمد ابن اسماعيل البخاري، صحيح بخاري، نشر دار طوق النجاه، طبع اولـی، سن طباعت ١٣٢٢هـ، جلد ٢، حديث ٦٦٩٥ ، ص: ٤٧٧
5 : سورة الاحزاب، آيت: ٣٣
6: محمد نجيب الرحمان، فضائل اہل بیت اور اصحاب کرام، آر۔ٹی پرنٹرز لاہور، جنوری ۲۰۱۳ ء، ص: ١٧
7 : سليمان ابن احمد ابن ايوب، الطبرانی، المعجم الکبير، مکتبه ابن تيميه القاهره، طبع ثانيه، حديث: ١١٠٦١
8 : سيد مير انور شاه، صحيفه انوريه، تدوين سيد حسين انوري، مترجم ډاکټرسيد مقيل حسين حسيني، عدن پرنټرز لاهور، اشاعت سوم، ستمبر٢٠١٨ء، مخ: ١٤٨
9 : محمد ابن اسماعيل البخاري، صحيح بخاري، نشر دار طوق النجاه، طبع اولـی، سن طباعت ١٣٢٢هـ، جلد ٢، حديث: ٢٩٤٢
10 : ابوعيسی محمد بن عيسی، سنن ترمذي، دارالغرب الاسلامی، باب مناقب علی ابن ابی طالب، حديث: ٣٧١٩

11 : الشیبانی احمد بن محمد ابن حنبل، مسند الامام احمد بن حنبل، الناشر: مؤسسة الرساله، طبع اولی، ٢٠٠١، حدیث: ١٥٩٦٠
12 : سید میرانورشاه، صحیفه انوریه، مخ: ٨٨
13 : همدغه، مخونه: ٨٦،٨٨
14 : هم دغه، مخ: ٣٦٠
15 : هم دغه، مخ: ٤٨٢
16 : هم دغه، مخ: ٢١١
17 : هم دغه، مخ: ٨٢
18 : هم دغه، مخ: ١٥٠
19 : هم دغه، مخ ٩٢
20 : هم دغه، مخ: ٢١٢
21 : هم دغه، مخ: ١٨٨
22 : هم دغه، مخ: ٣٤٨
23 : سنن ترمذی، حدیث: ٣٧٧٠
24 : مسند احمد، حدیث:٧٨٧٦
25 : سید میرانورشاه، صحیفه انوریه، مخ: ١٧٦،١٧٨
26 : هم دغه، مخ: ١٦
27 : هم دغه، مخ: ٤٧٢
28 : هم دغه، مخ: ٥٢٦
29 : هم دغه ، مخونه: ٣٥٦،٣٥٨
30 : هم دغه، مخ: ١٠